

# صحيح عقيده

## او هغه څه چې د دې په ضد دي او د اسلام ماتوونکي شيان

العقيدة الصحيحة وما يضادها

(پښتو)


ليکنه:

رحمه الله

عاليقدر شيخ عبد العزيز بن عبد الله بن باز

بسم الله الرحمن الرحيم

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام
جمعية الربوة
رواد الترجمة
المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# ﴿ سریزه ﴾

**ټولې ستاینې یوازې الله لره دي، او درود او سلام دې وي پر هغه چا چې وروسته ترې بل نبی نشته، او د هغه پر کورنۍ او ملګرو (دې د الله درود او سلام وي)**

**أما بعد:** کله چې صحیح عقیده د اسلام اصل او د ملت بنیاد دی نو مناسبه راته ښکاره شوه چې د تقریر موضوع مې همدا وټاکم. او په شرعي دلایلو؛ قرآن او سنت سره ښکاره ده چې کړنې او ویناوې هغه مهال صحیح بلل کیږي او منل کیږي چې له سمې عقیدې سرچینه واخلي، که چېرته عقیده ناسمه وي نو هر څه چې پرې بنا وي باطل دي خواه که کړنې وي او یا

ويناوې، لکه چې الله تعالى فرمايي: (نن ورځ تاسو لپاره پاکيزه څيزونه حلال کړى شول او د هغو کسانو ذبيحه (حلاله) چې کتاب ورته ورکړى شوى دى؛ تاسو لپاره حلاله ده او ستاسو طعام د هغوى لپاره حلال دى، او (تاسو لپاره حلالې دي) پاك لمنې مومنې ښځې او پاك لمنې ښځې له هغو خلقو څنې چې هغوى ته له تاسو نه مخکې کتاب ورکړى شوى دى، کله چې تاسو دغو (ښځو) ته د هغوى مهرونه ورکړئ، چې عفت غوښتونکي يئ، بدکاري کوونکي نه يئ او نه په پټه سره ياران نيوونکي يئ او څوك چې له ايمان نه انکار وکړي، نو يقينًا د هغه عمل برباد شو او هغه به په اخرت کې له تاوانيانو څخه وي).[1]

[[1]] [المائدة سورت: ٥ آيت]

او الله تعالی فرمايلي: (**او يقينًا يقينًا تا ته وحې کړای شوې ده او هغو کسانو ته چې له تا نه مخکې وو (داسې چې) قسم دی که تا شرك وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانيانو څخه شې**) [1]

او پدې معنا سره آيتونه ډير دي، د الله تعالی د کتاب او د هغه د امانتدار رسول - د هغه د رب له لورې دې تر ټولو غوره درود او سلام پر هغه وي - سنت پر دې دلالت کوي چې سمه ( صحيح ) عقيده : په الله جل جلاله، په پرېښتو، په کتابونو، د هغه پر پيغمبرانو، د آخرت پر ورځ او د خير او شر په اندازه په ايمان راوړلو کې خلاصه کيږي، دا شپږ کارونه همدغه د صحيح

[1] [الزمر سورت: 65 آيت].

عقيدې بنسټونه دي، پر کومو چې غالب الله خپل کتاب نازل کړی، او خپل پېغمبر يې؛ محمد - صلى الله عليه وسلم - پرې رالېږلی دی. [1]

د دې بنسټونو لاندې ټولې هغه غيبي چارې راځي چې ايمان راوړل پرې واجب دي، او ټول هغه څه چې الله او رسول يې ـ صلى الله عليه وسلم - پرې خبر ورکړی، او د دې شپږو بنسټونو ډېر زيات دليلونه په قرآن او سنت کې شته، چې له هغو څخه دا قول د الله تعالى دی: ﴿لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ

---

[1] مسلم الإيمان (8)، الترمذي الإيمان (2610)، النسائي الإيمان وشرائعه (4990)، أبو داود السنة (4695)، ابن ماجه المقدمة (63)، أحمد (1/27).

وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ﴾ [1]

(نېکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب په طرف وګرځوئ، خو لېکن نېکي (د هغه چا) ده چې پر الله او پر ورځ د آخرت او پر ملايکو او پر کتابونو او پر نبيانو يې ايمان راوړی).

او دا قول د الله تعالی: (رسول پر هغه څه ايمان راوړی دی ؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ايمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملايکو او د هغه پر کتابونو او د هغه

[1] [البقرة سورت: 177 آيت].

**په رسولانو باندې (او وايي) مونږه د هغه (الله) په رسولانو کې د هيچا په مينځ کې توپير نه کوو).** [1]

او دا قول د الله تعالى: **(اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو پر الله ايمان راوړئ او د هغه پر رسول او پر هغه کتاب چې هغه په خپل رسول باندې نازل کړى دى او پر هغو کتابونو چې له ده نه يې مخکې نازل کړي دي، او څوك چې کفر وکړي په الله او د هغه په ملايکو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو او د اخرت په ورځ، نو يقينًا هغه گمراه شو په ډېرې لرې گمراهۍ سره).** [2]

---

[1] [البقرة سورت: 285 آيت].

[2] [النساء سورت: 136 آيت].

او دا قول د الله تعالى: (**آيا ته نه يې پوه شوى چې بېشكه الله پوهېږي په هر هغه څه چې په آسمان او ځمكه كې دي، بېشكه دغه په يو كتاب كې دي، بېشكه دغه الله ته ډېر آسان دي.** [1]

كه څه هم صحيح حدېثونه كوم چې پر دې اصولو دلالت كوي ډېر زيات دي، له هغو نه يو هغه مشهور حديث دى چې مسلم په خپل صحيح كې د امير المؤمنين عمر بن الخطاب - (رضى الله عنه) - څخه روايت كړى دى چې جبريل عليه السلام له نبي - صلى الله عليه وسلم څخه دِ ايمان په اړه پوښتنه وكړه، نو هغه ورته وويل: «ايمان دې ته وايې چې: په الله جل جلاله، پرېښتو يې، كتابونو يې، پيغمبرانو يې، په

[1] [الحج سورت: 70 آيت].

وروستۍ ورځ(قيامت) او د خير او شر په اندازه باور ولرې». الحديث، او دواړو شيخانو؛ بخاري او مسلم دا حديث له ابو هريرة څخه هم (په خپلو كتابونو كې) راوړی دی. او د دې شپږو بنسټونو(اصولو) لاندې ټول هغه څه راځي چې مسلمان پرې بايد د الله تعالی، بيا ژوندون او داسې نورو غيبي چارو په اړه عقيده او باور ولري.

***

# ﴿ په الله تعالی ایمان ﴾

پدې باور لرل چې الله همغه حق معبود دی چې له ټولو شیانو پرته د بندګۍ مستحق دی.

په الله پاک له ایمان راوړلو څخه پدې ایمان راوړل دي چې همغه(ذات) په حقه له نورو ټولو پرته د بندګۍ مستحق دی، ځکه چې د بندګانو پیدا کوونکی، ورسره نیکي کوونکی، روزي ورکوونکی او د دوی په پټو او ښکاره و پوه دی، او د دې وړتیا لري چې منونکي ته یې ثواب او سرکښ ته یې جزا ورکړي، او د دې عبادت لپاره الله انسانان او پیریان پیدا کړي او امر یې ورته پرې کړی لکه چې فرمایي: **او ما پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت**

**وکړي.** [1] **زه له دوی نه هېڅ رزق نه غواړم او نه دا غواړم چې دوی ما ته خوراك راکړي.** [2] **بېشکه همدغه الله ښه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی.** [3]

او الله پاک فرمايي: **ای خلکو! د خپل رب عبادت وکړئ، هغه چې تاسو يې پيدا کړي ياست او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزگاره شئ.**[4]

**هغه (رب) چې ستاسو لپاره يې ځمکه فرش او اسمان چت گرځولی او له پورته نه يې اوبه نازلې کړې دي، بيا**

---

[1] [الذاريات سورت: 56 آيت].

[2] [الذاريات سورت: 57 آيت].

[3] [الذاريات سورت: 58 آيت].

[4] [البقرة سورت: 21 آيت].

**یې په دغو سره له مېوو نه ستاسو لپاره رزق راوېستلی، نو له الله سره هېڅ قسمه شریکان مه جوړوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ.** [1]

الله جل جلاله د دې حق د روښانه کولو او لورې ته یې د بلنې ورکولو لپاره رسولان او کتابونه رالېږلي دي او د دې له مخالفت څخه یې خبرداری ورکړی لکه چې الله پاک فرمایي: **او یقینًا یقینًا مونږ په هر یو امت کې یو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ.** [2]

او الله تعالی فرمایي: **او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لېږلی مگر چې هغه ته به مونږ(دا) وحي**

---

[1] [سورت بقره: 22 آیت].

[2] [النحل سورت 36 آیت].

**کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، نو تاسو زما عبادت کوئ.** [1]

او الله تعالی فرمايي: **الف، لام، را، (دا) کتاب دی چې آيتونه يې محکم کړی شوي دي، بيا د ښه حکمت والا، پوره خبردار ذات لخوا نه په تفصيل سره بيان شوي دي دا چې تاسو عبادت مه کوئ مګر يواځې د الله، بېشکه زه ستاسو لپاره د هغه له لورې (رالېږل شوی) وېروونکی او زېری ورکوونکی يم.** [2]

د دې عبادت حقيقت په عبادت سره د الله جل جلاله په ځانګړې کولو کې دی (پدې معنا) چې ټول هغه څه چې بندګان يې پرې د هغه عبادت کوي لکه: دعا،

---

[1] [الأنبياء سورت: 25 آيت].

[2] [هود سورت: 1–2 آيتونه].

ويره، امید ساتل، لمونځ کول، روژه نیول، قرباني، نذر او داسې نور ډول ډول عبادتونه باید هغه ته په تسلیمېدو، ورڅخه هیله لرلو،ویرېدلو او په عین وخت کې ورسره د پوره مینې ساتلو، په وړاندې یې سر ټیټولو او د هغه لویي منلو په فضا کې(یوازې هغه ته) تر سره شي،او د قران ډیره برخه ددې قاعدې د اثبات لپاره نازل شوې ده، لکه د الله دا وینا: **نو ته د الله عبادت کوه، په داسې حال کې چې دین هغه (الله) لره خالص کوونکی یې خبردار شئ! خاص د الله لپاره خالص دین دی.** [1]

او د الله پاک دا قول: **او پرېکړه کړې رب ستا چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هیچا) مګر یوائې د هغه.** [2]

---

[1] [الزمر سورت: 2–3 آیتونه].

[2] [الإسراء سورت: 23 آیت].

او د الله تعالی دا قول: **نو تاسو الله بلئ، په داسې حال کې چې همده ته د دين خالص کوونکي ياست، اگر که کافران يې بد گڼي.** [1]

او په صحيحينو کې له معاذ بن جبل - (رضی الله عنه) - څخه روايت دی چې نبی - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي: **د الله حق پر بنده گانو دادی چې عبادت يې وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي.**

❀❀❀

---

[1] [غافر سورت: 14 آيتونه].

# ﴿ د اسلام په ټولو پنځو ښکاره رکنونو ايمان راوړل چې پر خپلو بنده ګانو يې واجب او فرض ګرځولي دي ﴾

په الله له ايمان راوړلو څخه د اسلام په پنځو ښکاره ارکانو ايمان راوړل هم دي چې الله په خپلو بندګانو لازم او فرض ګرځولي دي او هغه: **ګواهي ورکول دي چې نشته په حقه معبود مګر يو الله دی او پدې چې محمد - صلى الله عليه وسلم - د الله رسول دی، د لمانځه ودرول، د زکات ورکول، د رمضان روژه، او د بيت الله الحرام حج کول د هغه چا لپاره چې د ورتګ وړتيا ولري او داسې نور هغه فرضونه چې پاک شريعت پرې راتګ کړی دی.**

**تر ټولو اړين(مهم)** او لوی رکن يې **پدې گواهي ورکول دي چې پرته له الله څخه په حق بل معبود نشته او دا چې محمد - صلی الله عليه وسلم - د الله رسول دی،** نو پدې گواهي ورکول چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته؛ الله تعالی ته د عبادت د ځانگړې کولو او له هغه پرته له نورو څخه يې د نفي کولو غوښتنه کوي، او همدا د (**لا اِله الا الله** ) معنا ده، ځکه معنا يې داسې ده چې په حقه سره معبود نشته مگر يو الله، نو هر هغه څه چې له الله پرته يې عبادت شوی؛ که انسان وي، يا پرښته وي او يا هم پيری او يا نور، نو د ټولو عبادت په باطل سره شوی، او هغه چې په حقه يې عبادت کيږي يوازې الله دی لکه څرنگه چې هغه پاک ذات فرمايي:

**دغه پدې سبب چې بېشکه الله، هم دی حق دی او دا**

**چې بېشکه هغه چې دوی يې له هغه (الله) نه پرته رابولي، همغه باطل دی.** [1]

وړاندې څرګنده شوه چې الله تعالی د همدې بنسټيز اصل لپاره ثقلين(انسانان او پيريان) پيدا کړي او ورته يې پرې امر کړی، خپل پيغمبران يې لدې سره راليږلي او خپل کتابونه يې پدې سره نازل کړي، نو پدې اړه ښه فکر وکړه او زيات يې راپه زړه کړه، تر څو درته پدې بنسټيز اصل هغه لويه ناپوهي څرګنده شي چې ډېری مسلمانان پکې لويدلي دي تر دې چې د الله سره يې د نورو عبادت وکړ، او د هغه خالص حق يې له هغه پرته نورو ته ورکړ، نو له الله نه مرسته غواړو.

❊❊❊

[1] [الحج سورت: 62 آيت].

## ﴿ پدې باور لرل چې الله پخپله پیدا کوونکی د عالم، چارې سمبوونکی یې او په خپل علم او ځواک سره پدوی کې تصرف کوونکی دی ﴾

او په الله پاک له ایمان څخه پدې باور لرل دي چې همغه د کائناتو پیدا کوونکی، چارې سمبوونکی، او په خپل علم او ځواک سره هر رنګ چې وغواړي د هغوی په چارو کې تصرف کوونکی دی، او همغه د دنیا او آخرت مالک او د ټولو کائناتو رب دی، له هغه پرته بل خالق نشته او له هغه پرته بل رب نشته. او دا چې هغه استازي(رسولان) رالیږلي او کتابونه یې د بندګانو د اصلاح او هغه څه ته د بلنې په موخه نازل کړي دي

چې په دنیا او اخرت کې د هغوی خلاصون او ښېګڼه پکې ده.

او هغه پاک ذات لره پدې ټولو کې شریک نشته لکه څرنګه چې فرمايي: **الله د هر شي پیدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی** [1]

او الله تعالی فرمايي: **بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې آسمانونه او زمکه يې په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، بیا د عرش له پاسه برقراره شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي، په داسې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او (پیدا کړې يې ده) لمرسترګه، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم**

[1] [الزمر سورت: 62 آیت].

**سره مسخر کړی شوي دي، خبر اوسئ! خاص هغه لره دي پیدا کول او حکم کول، ډېر برکت والا دی الله؛ پالوونکی د ټول عالم دی.** [1]

د هغه په ښاېسته نومونو او لوړو صفتونو ایمان راوړل پرته له تحریف ( **معنی کې بدلون راوستل** )، تعطیل ( **له معنی يې انکار کول** ) تکییف ( **څرنګوالی يې بیانول** ) او تمثیل ( **د هغه لپاره د بیلګې یا مثل بیانول** ).

او په الله له ایمان راوړلو دا هم دي چې د هغه په ښاېسته نومونو او لوړو صفتونو؛ هغه چې په خپل غالب کتاب او یا د هغه د امین رسول په ثابت شوو سنتو کې راغلي دي، پرته له تحریف، تعطیل، تکییف

---

[1] [الأعراف سورت: 54 آیت].

او تمثیل څخه ایمان درلودل، بلکه هغه ډول یې منل واجب دي لکه څرنګه چې راغلي دي پرته له څرنګوالي څخه، سره له ایمان درلودلو نه په هغه لویو معناوو چې هغه د الله جل جلاله صفتونه دي، نو په هغه ډول پرې د الله نومول واجب دي څرنګه چې د هغه شان سره ښایي پرته لدې چې د مخلوق سره په کوم شي کې ورته والی ورکړل شي لکه څرنګه چې فرمايي: **(د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی)** [1]

او الله تعالی فرمايي: (نو تاسو د الله لپاره مثالونه مه بيانوئ، بېشکه الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ) [2]

---

[1] [الشورى سورت: 11 آيت].

[2] [النحل سورت: 74 آيت].

او دا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له ملگرو څخه د اهل سنت والجماعت عقیده ده او د هغه چا چې په نیکۍ کې د هغوی پیروان دي، او هغه(عقیده) چې امام ابو الحسن الأشعری - رحمه الله - په کتاب " **المقالات عن أصحاب الحديث وأهل السنة** " کې رانقل کړې ده، او لدې پرته نورو د علم او ایمان خاوندانو هم رانقل کړې ده.

أوزاعي رحمه الله فرمايلي دي: **له زهري او مکحول څخه د صفاتو د آيتونو په اړه پوښتنه وشوه، نو هغوی دواړو وويل: څرنگه چې راغلي همداسې يې تېر کړئ.**

او وليد بن مسلم رحمه الله وايي: له مالک، اوزاعي، ليث بن سعد او سفيان الثوری - رحمهم الله - څخه د

صفاتو په اړه د راغلو روايتونو په اړه پوښتنه وشوه، نو ټولو وويل: **څرنګه چې راغلي له څرنګوالي پرته يې همداسې تېر کړئ.**

او اوزاعي رحمه الله ويلي: **مونږ او ډيری تابعينو به وييل: الله پاک يې په عرش باندی دی او ايمان مو راوړی په هغه صفتونو چې په سنتو کې راغلي دي.**

او کله چې د مالک له شيخ؛ ربيعة بن أبی عبد الرحمن ـ رحمها الله - څخه د استواء په اړه پوښتنه وشوه ويې ويل: **( استواء نامعلومه نده، او د کيفيت په اړه يې پوښتنه کول دعقل خلاف کار دی، د الله لخوا پيغام دی، په رسول يې ښکاره رسول او پر مونږ يې منل دي).**

او کله چې له امام مالک - رحمه الله - څخه پدې اړه پوښتنه وشوه ويې ويل: **استواء معلومه ده، کيفيت يې نامعلوم دی، ايمان پرې واجب دی او په اړه يې پوښتنه کول بدعت دی، بيا يې پوښتونکي ته وويل: زما له نظره سم سړی نه يې! بيا يې امر وکړ او وويستل شو.**

او همدا معنا له أم المؤمنين أم سلمه - (رضي الله عنها) - څخه روايت شوې ده، او اِمام أبو عبد الرحمن بن المبارک رحمة الله عليه فرمايلي دي: **(مونږ خپل پاک رب پېژنو چې هغه د اسمانونو له پاسه د مخلوقاتو نه جدا په خپل عرش باندې دی ).**

او پدې اړه د امامانو خبرې ډيرې زياتې دي چې پدې يو تقرير کې يې راوړل ناشوني دي، او که څوک

غواړي چې ډېرو معلوماتو ته پدې اړه لاسرسی ولري نو د اهل سنت علماوو ليکنو ته دې مراجعه وکړي لکه (السنة) کتاب؛ د عبد الله بن الامام احمد او (التوحيد) د جليل القدر امام محمد بن خزيمة کتاب، او (السنة) د ابو القاسم اللالکائي الطبري کتاب، او (السنة) د أبی بکر بن أبی عاصم کتاب، د حماة کلي اوسيدونکو ته د شيخ الاِسلام ابن تيمية جواب، او هغه لوی او ډير ګټه لرونکی جواب دی، په نوموړي جواب کې هغه رحمه الله د اهل سنت عقيده بيان کړې ده او د هغوی زياتې ويناوې يې نقل کړي دي، همدا رنګه شرعي او عقلي دليلونه چې د اهل سنت د ويناوو په صحت دلالت کوي او د هغوی د مقابل لورې د ويناوو په بطلان دلالت کوي راوړي دي.

او همدا رنگه (التدمريه) نومې رساله يې چې موضوع ته يې پکې پراخوالی ورکړی او د اهل سنت والجماعت عقيده يې په عقلي او نقلي دلايلو او پر مخالفينو رد کولو سره بيان کړې ده چې په پايله کې حق ښکاره کوي او باطل ورکوي، د هر هغه عالم لپاره چې د ښه نيت او حق پېژندنې ته د ليوالتيا له مخې پکې نظر واچوي، او ټول هغه خلک چې د اهل سنت و الجماعت سره يې د أسماء او صفاتو په اړه په عقيده کې مخالفت کړی دی نو خامخا به په عقلي او نقلي دلايلو وړاندې کولو کې له ټکر سره مخ شي، او ښکاره تناقض به په هغه څه کې وګوري چې دی يې ثابتوی او يا يې نفي کوي.

او اهل سنت والجماعت الله پاک لره هغه څخه ثابتوي چې هغه ځان لره په خپل عزتمند کتاب کې ثابت کړي دي او یا یې رسول محمد - صلی الله علیه وسلم - ورته په صحیحو سنتو کې ثابت کړي دي؛ پرته له تمثیل څخه. او الله تعالی یې مخلوقاتو سره له تشبیه ورکولو څخه پاک ګرځولی دی، پداسې پاکوالي سره چې له تعطیل څخه یې پکې ځان ژغورلی، نو له ټکر څخه یې ځان ژغورلی او پر ټولو دلیلونو یې عمل کړی، او دا د پاک الله کړنلاره ده چې هغه چا چې په هغه حق منګولې خښې کړي چې الله پرې خپل پیغمبران رالیږلي، او پدې اړه یې خپله وسه وکړه، او له الله تعالی څخه یې په اخلاص وغوښتل چې حق ته یې ورسوي او دلیل یې په نورو پورته کړي لکه څرنګه

چې فرمايي: **(بلکې مونږ په حق سره باطل وُلو، نو دا د هغه دماغ راوباسي، نو ناڅاپه هغه ختمېدونکی وي).**[1]

او الله تعالی فرمايلي: **(او دوی تا ته کوم مثال (عجيب سوال او اعتراض) نه راوړي مګر مونږ تا ته راوړو (د هغه) حق (جواب) او تر ټولو ښه تفسير).** [2]

حافظ ابن کثير رحمه الله په خپل مشهور تفسير کې د الله جل جلاله د دې وينا په اړه - ﴿**إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ**﴾ [3]

---

[1] [الأنبياء سورت: 18 آيت].

[2] [الفرقان سورت: 33 آيت].

[3] [الأعراف سورت: 54 آيت].

**يعنې: بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې اسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، بيا د عرش له پاسه برقراره شو.**

د دې باب په اړه غوره وینا کړې ده چې رانقلول یې دلته مناسب دي ځکه لویه ګټه لري. د هغه رحمه الله وينا داسې ده: **خلک د دې دريځ په اړه ډېرې وېناوې لري چې دا یې په تفصیل سره د یادولو ځای ندی، بلکه مونږ پدې ځای کې د سلفو د مذهب لاره نیسو، چې هغه د مالک، أوزاعي، ثوري، ليث بن سعد، شافعي، أحمد، اِسحاق بن راهويه او د مسلمانانو نور پخواني او اوسني امامان دي(هغوی) پدې اند دي چې ( د الله تعالی صفتونه ) بايد داسې تېر کړل شي لکه څرنګه**

چې راغلي دي پرته له تکييف، تشبيه او تعطيل څخه، او هغه (ذات) اوريدونکی او ليدونکی دی، بلکه خبره دا ده لکه څرنګه چې امامانو ويلي لکه: نعيم بن حماد الخزاعي د امام بخاري استاد چې وايي: چا چې د الله تعالی تشبيه د مخلوق سره يې وکړه نو کفر يې وکړ، او چاچې له هغه څه انکار وکړ چې الله تعالی پرې خپل ځان ياد کړی نو کفر يې وکړ، او هيڅکله په هغه څه کې تشبيه نشته چې الله تعالی پرې خپل ځان ياد کړی او يا يې رسول پرې هغه ياد کړی، او په هغه څه کې - چې الله تعالی پرې ځان ياد کړی او يا يې رسول په هغې سره ياد کړی - تشبيه نشته، نو چا چې الله تعالی ته هغه څه ثابت کړل چې په هغې سره ښکاره آيتونه او صحيح احاديث راغلي په هغه شان چې د الله تعالی د

لویې سره ښایي، او له الله تعالی څخه یې د نقصان (صفتونه) نفي کړل نو د هدایت لار یې نیولي ده.

❀❀❀

# ﴿ په پرښتو ايمان ﴾

او په پرښتو ايمان: پر هغوی اجمالي او تفصيلي ايمان په بر کې نيسي، نو مسلمان به پدې ايمان لري چې الله تعالی لره ملايکې دي او د خپلې پيروۍ لپاره يې پيدا کړي دي او په عزتمندو بنده ګانو سره يې نومولي دي چې هيڅ کله په خبرو کې له هغه (الله) نه مخکي والی نه کوي او دوی خاص د هغه په حکم عمل کوي **(هغه ته معلوم دي څه چې د دوی په وړاندې دي او څه چې له دوی نه وروسته دي، او دوی شفاعت نشي کولی مګر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) ترې راضي وي او دوی خاص د هغه له هيبته ويرېدونکي دي).** [1]

---

[1] [الأنبياء سورت: 28 آيت].

او دوی (پرښتې) بیلابیل ډولونه دي،ځنې له دوی د عرش په پورته کولو ګمارل شوي، او ځنې يې د جنت او دوزخ ساتونکي دي، او ځنې يې د بندګانو د کړنو پر ساتلو ګمارل شوي دي، او مونږ په بشپړه توګه په هغو ایمان لرو چې الله تعالی او رسول يې راته نومولي دي لکه: جبریل، میکائیل، مالک د دوزخ ساتونکی او اسرافیل؛ په شپیلۍ کې په پوکې ګمارل شوی، د دوی یادونه په ډیرو صحیحو حدیثونو کې شوې ده، او په صحیح کې له عائشې (رضي الله عنها)- څخه ثابت دي چې نبی - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي: «**پرښتې له نور(رڼا) څخه پیدا شوي، او جان(د پیریانو پلار) له هغه اور نه پیدا شوی چې سختې لمبې وهي او یا يې په لمبو کې توروالی وي، او آدم له هغه څه څخه**

پیدا شوی چې تاسو ته یې یادونه شوې ده». مسلم په خپل صحیح کې راوړی دی.

❀❀❀

# ﴿په کتابونو ایمان﴾

همدا رنګه ایمان په کتابونو؛ په اجمالي (کلي) توګه ایمان واجب دی پر دې چې الله تعالی پر خپلو نبیانو او رسولانو د حق د بیانولو او ورته د بلنې لپاره کتابونه نازل کړي دي لکه څرنګه چې هغه تعالی فرمايي: **(یقینًا مونږ خپل رسولان په ښکاره دلیلونو سره لیږلي دي او له دوی سره مونږ کتاب او تله نازل کړي دي، د دې لپاره چې خلق په انصاف ودریږي)** [1]

او الله تعالی فرمایلي: **(ټول خلق (په پیل کې) یو امت وو (نو هغوی د یو بل سره اختلاف وکړو) نو الله نبیان راولیږل چې زیری ورکوونکي او ویروونکي وو او له**

[1] [الحدید سورت: 25آیت].

**هغوی سره يې په حقه کتاب نازل کړ، د دې لپاره چې هغه د خلقو په مینځ کې د هغه شي فیصله وکړي چې دوی په کې اختلاف کړی دی.** [1]

او له ډلې يې هغه چې الله تعالی نوموللي تفصيلي ايمان پرې لرو لکه: **تورات، انجيل، زبور او قرآن چې تر ټولو غوره او وروستی يې دی، پر ټولو مسلط او تصدیق کوونکی يې دی، او هغه دی چې پر ټول امت يې پیروي واجب ده،** د صحیحه سنتو سره چې له رسو الله صلی الله علیه وسلم - څخه ثابت دي، ځکه الله تعالی يې استازی محمد - صلی الله علیه وسلم - ټولو ثقلینو۔ انسانانو او پیریانو- ته رالیږلی، او دا قرآن يې پرې نازل کړی چې پریکړه پرې وکړي، او د هغه

[1] [البقرة سورت: 213 آیت].

(ناروغيو) لپاره يې شفا ګرځولې چې په زړونو کې دي، او د هر څه په اړه وضاحت وركوونكى، لارښود او رحمت د مؤمنانو لپاره، لكه چې فرمايي: **(او دا كتاب دى چې مونږ نازل كړى دى، نو تاسو د ده پيروي وكړئ او پرهېزګاره شئ، د دې لپاره چې پر تاسو رحم وكړى شي).** [1]

او الله پاک فرمايلي: **(او مونږ په تا باندې كتاب نازل كړى دى، په داسې حال كې چې (د دين) د هر شي لپاره (په كې) واضحه بيان دى او هدايت او رحمت او زيرى دى د مسلمانانو لپاره).** [2]

---

[1] [الأنعام سورت: 155آيت].

[2] [النحل سورت: 89 آيت].

او الله تعالی فرمایلي: **(ته ووایه: ای خلکو! بېشکه زه ستاسو د ټولو په طرف د هغه الله (رالیږل شوی) رسول یم چې خاص د هغه لپاره د اسمانونو او زمکې بادشاهي ده، نشته هېڅ حق معبود مگر همدی دی، همدغه ژوند ورکوي او مرگ ورکوي، نو تاسو پر الله او د هغه پر رسول ایمان راوړئ چې نبي دی، امي دی، هغه چې پر الله او د هغه پر کلماتو ایمان لري او تاسو د هغه پیروي وکړئ، د دې لپاره چې تاسو هدایت ومومئ).** [1]

او آیتونه پدې معنا سره ډیر دي.

***

[1] [الأعراف سورت: 158آیت].

# ﴿پر پیغمبرانو ایمان﴾

او همدارنگه رسولان؛ چې اجمالي او بشپړ ایمان راوړل پرې واجب دي، نو ایمان لرو پر دې چې الله پاک خپلو بندګانو ته د دوی له ډلې پیغمبران لیږلي دي؛ زیری ورکوونکي، ویروونکي او حق ته بلونکي، نو چا چې یې بلنه ومنله نیمګرغي به وګټي او څوک چې ورسره مخالفت وکړي مایوسه او پښیمانه به شي، وروستی او غوره یې زمونږ نبي محمد بن عبد الله - صلی الله علیه وسلم - دی لکه چې الله پاک فرمایي:

**(او یقینًا مونږ په هر یو امت کې یو رسول لیږلی و (په**

**دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ).** [1]

او الله تعالى فرمايي: (**او (مونږ لېږلي وو) رسولان، چې زېرى ورکوونکي او وېروونکي وو، د دې لپاره چې د خلقو لپاره په الله باندې څه حجت پاتې نشي).** [2]

او الله تعالى فرمايي: (**محمد (ﷺ) ستاسو په سړيو کې د هيچا پلار نه دى، مګر د الله رسول دى او د نبيانو (د لړۍ) ختمونکى دى).** [3]

او څوک چې الله - تعالى - نومولي او يا يې له رسول څخه نوم ثابت شوى دى، تفصيلي او کټ مټ ايمان

---

[1] [النحل سورت: 36 آيت].

[2] [النساء سورت: 165 آيت].

[3] [الأحزاب سورت: 40 آيت].

پرې لرو لكه: **نوح، هود، صالح، ابراهيم او داسې نور - عليهم وعلى نبينا أفضل الصلاة و أزكى التسليم.**

پر هغوی او زمونږ پر نبي دې غوره درود او پاكيزه سلامونه وي.

❀❀❀

# ﴿ د آخرت پر ورځ ایمان ﴾

**او د آخرت په ورځ ایمان چې دی:**

په ټولو هغو شیانو ایمان په بر کې نیسي چې الله او رسول يې - صلی الله علیه وسلم - پرې خبر ورکړی، چې له مرګ نه وروسته به وي لکه: د قبر امتحان، عذاب او نعمتونه یې، ویره او سختي، د صراط (پل)، تله، حساب، جزا، د خلکو تر منځه د عملنامو خپریدل؛ چې ځینې به یې په ښي او ځینې نور به یې په چپ لاس او یا د شا لخوا اخلي.

او پدې کې زمونږ د پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم حوض هم شامل دی، په جنت او دوزخ ایمان، او د مؤمنانو لخوا د خپل پاک رب لیدل او د هغه لخوا

ورسره خبرې کول او داسې نور چې په قران کریم او د رسول الله - صلی الله علیه وسم- په صحیحو سنتو کې راغلي دي، نو پدې ټولو ایمان واجب دی، او په هغه ډول منل یې واجب دي چې الله او رسول یې بیان کړي دي.

❊❊❊

# ﴿ په تقدير ایمان ﴾

**په تقدير ايمان؛څلورو شيانو ته شامليږي:**

**لومړی:** الله په هغه څه پوه دی چې وو او هغه څه چې وروسته به وي، او د بندګانو په حالاتو خبر دی او د دوی ارزاق، وروستۍ نیتې، عملونه او داسې نورې چارې یې ورته معلومې دي، لدې شیانو هیڅ شی ورڅخه پټ ندی، پاکي ده هغه ذات لره او پورته دی، لکه چې فرمايي: **الله په هر شي باندې ښه پوه دی.** [1]

[1] [البقرة سورت: 231 آيت].

او الله تعالی فرمايي: **(د دې لپاره چې تاسو پوه شئ چې يقينًا الله په هر شي باندې ښه قادر دی او دا چې يقينًا الله د علم په لحاظ هر شی راګېر کړی دی).** [1]

**دويمه خبره:** هر هغه شی چې (الله پاک) اندازه کړی او د هغه پريکړه يې کړې؛ ليکلی دی، لکه الله پاک چې فرمايلي: **(يقينًا مونږ په هغه څه خبر يو چې ځمکه يې د دوی (له وجود) نه کموي او زمونږ سره يو ښه ياد ساتونکی کتاب دی).** [2]

او الله تعالی فرمايلي: **(او هر شی، مونږ هغه په ښکاره اصل (لوح محفوظ) کې درج کړی دی).** [3]

---

[1] [الطلاق سورت: 12 آيت].

[2] [ق سورت: 4 آيت].

[3] [يس سورت: 12 آيت].

او الله تعالی فرمايلي: (**آيا ته نه يې پوه شوی چې بېشکه الله پوهېږي په هر هغه څه چې په اسمان او ځمکه کې دي، بېشکه دغه په يو کتاب کې دي، بېشکه دغه الله ته ډېر اسان دي**).[1]

**دريمه خبره:** د هغه په خوښه (مشيئت) ايمان، نو څه چې وغواړي هغه کېږي او څه چې ونه غواړي هغه نه کېږي لکه چې الله پاک فرمايي: (**بېشکه الله کوي هغه څه چې اراده يې وکړي**)[2]

[1] [الحج سورت: 70 آيت].

[2] [الحج سورت: 18آيت].

او الله تعالی فرمايلي: (**بېشکه د هغه امر (حکم) هم دا وي چې کله د يو شي اراده وکړي، دا چې هغه ته ووايي چې پيدا شه، نو هغه پيدا شي).** [1]

او الله پاک فرمايي: (**او تاسو اراده نشئ کولی مګر دا چې الله وغواړي، بېشکه الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی).** [2]

**څلورمه خبره:** د ټولو موجوداتو پيدا کول، له هغه پرته بل پيدا کوونکی او له هغه پرته به رب نشته لکه چې فرمايي: (**الله د هر شي پيدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی).** [3]

---

[1] [يس سورت: 82 آيت].

[2] [الإنسان سورت: 30 آيت].

[3] [الزمر سورت:62 آيت].

او الله تعالی فرمایلي: (**ای خلقو! تاسو د الله هغه نعمتونه یاد کړئ چې په تاسو شوي دي، ایا له الله نه غیر (بل) خالق شته، چې تاسو ته له اسمان او ځمکې نه رزق درکوي؟ نشته هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، نو کوم اړخ ته تاسو ګرځولی کېږئ)**.[1]

نو د اهل سنت والجماعت په اند پر تقدیر ایمان دغه څلورو کارونو ته شاملېږي، د ځنې بدعتیانو پر خلاف چې هغوی ورڅخه انکار کوي.

❀❀❀

---

[1] [فاطر سورت: 3 آیت].

# ﴿ايمان له قول او عمل څخه عبارت دی، چې په طاعت سره زياتيږي او په ګناه کولو سره کميږي﴾

او په الله ايمان دې ته هم شامليږي چې ايمان له قول او عمل څخه عبارت دی؛ په پيروۍ سره زياتيږي او په سرکښۍ سره کميږي، له شرک او کفر نه پرته د نورو ګناهونو په پايله کې د هيڅ مسلمان کافرول جايز ندي لکه: **زنا، غلا، سودخوړل، نشه يي توکي څښل، د مور او پلار نافرماني او داسې نور کبيره ګناهونه** تر دې چې حلال يې ونه ګڼي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی: **(بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك)**

**شريك كړى شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرك) نه كمه وي د چا لپاره چې وغواړي).** [1]

او د هغه متواترو احاديثو له امله چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه راغلي چې فرمايي : الله تعالى به له اور څخه هر هغه څوک راوباسي چې په زړه کې يې د کنجد د دانې په اندازه له ايمان څخه وي.

❀❀❀

[1] [النساء سورت: 48 آيت].

## ﴿ د الله لپاره مینه کول او د الله لپاره کرکه کول ، او دوستي او دښمني د الله لپاره ﴾

**او په الله تعالی له ایمان څخه:** د الله لپاره مینه او د الله لپاره کرکه، دوستي او دښمني د الله لپاره دي، نو مؤمن سره به مینه لرې او دوستي به ورسره کوې، او کفار به بد گڼې او دښمني به ورسره کوې، او د دې امت د ټولو مؤمنانو په سر کې د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - ملگري دي.

نو اهل سنت والجماعت ورسره مینه لري او دوستي ورسره کوي، او پدې باور دي چې دوی له نبیانو څخه وروسته غوره خلک دي، ځکه پیغمبر صلی الله علیه

وسلم فرمايلي: «**خير القرون قرني ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم**» [1]

تر ټولو غوره پيړۍ زما ده، بيا هغه خلک چې ورپسې دي او بيا هغه خلک چې ورپسې دي. د دې حديث پر صحت اتفاق شوی دی.

دوی باور لري چې غوره يې أبوبکر الصديق بيا عمر الفاروق بيا عثمان ذو النورين بيا على المرتضى - (رضي الله عنهم) - دي، بيا ورپسې پاتې د هغو لسو نور پاتې کسان دي چې د جنت زيری ورکړل شوی، بيا ورپسې پاتې صحابه کرام - (رضي الله عنهم أجمعين)- دي، او دوی له هغه څه لاس په سر کيږي چې د

---

[1] البخاري الشهادات (2509)، مسلم فضائل الصحابة (2533)، الترمذي المناقب (3859)، ابن ماجه الأحكام (2362)، أحمد (434/1

هغوی تر منځ واقع شوي دي، او باور لري چې هغوی په هغه کارونو کې مجتهدین وو، نو د چا اجتهاد چې سم و هغه ته دوه اجرونه او د چا چې ناسم و هغه ته یو اجر دی.

او د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - د کورنۍ له مؤمنانو سره مینه ساتي او دوستي ورسره کوي، همدارنګه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم بیبیانو؛ د مسلمانانو مورګانو ته د قدر په سترګه ګوري او دعا ورته کوي چې الله له ټولو څخه راضي شي، او د روافضو له طریقې نه بیزاره دي؛ هغوی چې د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ملګري بد ګڼي؛ ښکنځلي ورته کوي، او د اهل بیت په اړه له حد نه

اوړي، له خپلې مرتبې نه يې - چې الله تعالى ورکړې - پورته ګڼي، همدا رنګه د ناصبيانو له طريقې نه هم بيزاره دي؛ هغوى چې په وينا او يا کړنو سره أهل البيت اذاروي.

ټول هغه څه مو چې پدې لنډه وينا کې راونغاړل، په هغه صحيح عقيده کې شامل دي چې الله تعالى پرې خپل رسول محمد - صلى الله عليه وسلم - راليږلى، او هغه د ژغورل شوي ټولي؛ أهل السنت والجماعت عقيده ده هغه چې نبى - صلى الله عليه وسلم - يې په اړه فرمايلي: «**لا تزال طائفة من أمتي على الحق منصورة لا يضرهم من خذلهم حتى يأتي أمر الله سبحانه**» [1]

[1] مسلم الإمارة (1920)، الترمذي الفتن (2229)، أبو داود الفتن والملاحم (4252)، ابن ماجه الفتن (3952)، أحمد (5/279).

همېشه به زما د امت یوه ډله پر حق بریالۍ پاتې وي- څوک یې چې سپکوي هیڅ ضرر به ورته ونه رسولای شي تر دې - چې د الله پاک امر راشي.

او هغه - علیه الصلاة و السلام - فرمایلي: «**یهود په یو اویا ډلو وویشل شول، او نصارا په دوه اویا ډلو، او زر دی چې دا اُمت به درې اویا ډلو ته وویشل شي؛ ټولې به په اور کې وي مګر یوه ډله، نو صحابه و وویل: هغه کومه ده ای د الله رسوله! ویې فرمایل: څوک چې په هغه لاره وي چې زه او زما ملګري پرې دي**» او دا هغه عقیده ده چې منګولې لګول او کلک پاتې کېدل پرې

**واجب دي، او هر هغه څه چې د دې خلاف دي ځان ورڅخه ژغورل (واجب) دي.**[1]

❊❊❊

[1] ابن ماجه الفتن (3992).

# ﴿ لدې عقيدې څخه د منحرفو او پر ضد يې د تلونکو يادونه ﴾

**ډولونه يې:**

لدې عقيدې نه کاږه شوي او پر ضد يې لاره وهونکو خلکو ډېر ډولونه دي: څنې يې بتان، مجسمې، پرښتې، وليان، پيريان، ونې، تيږې (ډبرې) او د داسې نورو شيانو عبادت کوونکي دي، دوی د پيغمبرانو بلنه نده منلې، بلکه د هغوی مخالفت يې کړی او ضد او دښمني يې ورسره کړې لکه هغه څه چې قريشو او بيلابيلو عربو چې زمونږ د پيغمبر محمد - صلى الله عليه وسلم - سره وکړل، هغوی به له خپلو خدايانو څخه د اړتياوو پوره کول، د ناروغانو لپاره روغتيا، او پر

دښمنانو يي د برلاسي کېدو دعاګانې غوښتلې، هغو ته به يې حلالې کولې او نذرونه به يې ورته وړاندې کول، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوی دا کار بد وګاڼه او په يوازې توګه د يو الله پر عبادت يې ورته امر وکړ، نو دا خبره يې ناشنا وګڼله او ويې ويل: **(آيا ده دغه معبودان يو اله وګرځول، بېشکه دا خامخا ډېر عجيبه څيز دی).** [1]

نو پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - دوی تر هغه د الله عبادت ته رابلل او له شرک څخه يې ويرول،او هغه څه چې دوی يې عبادت کاوه د هغه په حقيقت يې پوهول؛ تر دې چې الله تعالى چې چاته لدوی څخه غوښتل هدايت وکړ، نو د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- او

[1] [ص سورت: 5 آيت].

د هغه د ملګرو -(رضي الله عنهم) - او ورپسې نورو لارویانو له اوږد جهاد او پرلپسې بلنې څخه وروسته د الله - تعالی - دین پر ټولو دینونو بریالی شو او خلک د الله په دین کې ډلې ډلې ننوتل؛ بیا حالاتو بدلون وکړ او په ډیرو خلکو ناپوهی لمن وغړوله، تر دې چې ډیری یې بیرته د جاهلیت دین ته وروګرځېدل؛ داسې چې په پیغمبرانو او ولیانو باندې باور لرلو کې له حد نه واوښتل، نو چا ترې دعا غوښتله او چا پرې مرسته او داسې نور د شرک ډولونه، او د: **لا إله إلا الله معنا یې داسې ونه پیژنده لکه د عربو کفارو چې پېژندلې وه، نو الله مرسته کوونکی دی.**

او دا شرک تر دې مهاله په خلکو کې د هغوی د ناپوهۍ او د نبوت له زمانې سره د زيات واټن د رامنځته کېدو له امله خپرېږي.

❀❀❀

# ﴿ له هغوی څخه د وروستيو شبهه همغه د پخوانيو شبهه ده؛ دا او د ځينو کفري عقيدو يادونه ﴾

د دې وروستيو شبهه همغه د پخوانيو شبهه ده، او هغه د دوی دا خبره ده چې: دوی د الله په وړاندې زمونږ سپارش کوونکي دي، مونږ د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې الله ته مو نږدې کړي، الله - تعالی - د دوی دا شبهه باطله کړه او ورته يې څرګنده کړه چې چا له هغه پرته د بل چا عبادت وکړ؛ چې هر څوک وي نو خامخا له هغه سره يې شرک وکړ او کافر شو لکه چې الله تعالی فرمايي: **او دوی له الله نه پرته د هغو څيزونو عبادت کوي چې نه دوی ته ضرر رسولی شي او نه**

**دوی ته نفع رسولی شي او دوی وايي: دا د الله په وړاندې زمونږ سپارش کوونکي دي.** [1]

الله پاک پر دوی په خپلې دې وينا سره رد وکړ **(ته ووايه: آيا تاسو الله پر هغه څه خبروئ چې هغه يې نه په آسمانونو کې پېژني او نه يې په ځمکه کې! هغه ډېر پاك دی او ډېر اوچت دی له هغو څيزونو نه چې دوی يې ورسره شريکوي).** [2]

نو هغه پاک ذات پدې آيت کې دا بيان کړه چې له هغه پرته د نبيانو، وليانو او داسې نورو عبادت لوی شرک دی، اگر که تر سره کوونکي يې دا په نورو نومونو يادوي، او الله تعالى فرمايي: **(او هغه کسان چې له**

---

[1] .[يونس سورت: 18 آيت]

[2] .[يونس سورت: 18 آيت]

**هغه پرته يې نور دوستان (کارسازي) نيولي دي (وايي:) مونږ د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې دوی مونږ الله ته نژدې کړي).**[1]

الله پاک پر دوی په خپلې دې وينا سره رد وکړ: **(بېشکه الله به د دوی په مينځ کې په هغو خبرو کې فيصله کوي چې دوی په هغو کې اختلاف کوي، بېشکه الله لاربنوونه نه کوي هغه چا ته چې هغه دروغجن، ډېر ناشکره وي).**[2]

نو پدې سره ورته الله پاک ښکاره کړه چې له هغه پرته بل چاته د دوی عبادت کول په دعا، ويرې، اميد ساتلو او داسې نورو سره په هغه پاک ذات کفر کول دي، او

---

[1] [الزمر سورت: 3 آيت].

[2] [الزمر سورت: 3 آيت].

دوی یې دروغجن وگرځول په خپله هغه وینا کې چې وایي: مونږ یې عبادت نه کوو مگر د دې لپاره چې هغه - الله تعالی - ته مو ښه نږدې کړي.

او له کفري عقیدو څخه چې د سمې عقیدې ضد او هغه څه سره مخالفې دي چې پیغمبرانو علیهم الصلاة والسلام پرې راتگ کړی؛ هغه عقیده ده چې بې دینان یې په نن عصر کې لري لکه: د مارکس، لینن پیروان او داسې نور بې دینۍ او کفر ته بلونکي، برابره ده که دوی یې په سوسیالیزم، کمونیزم، بعث او داسې نورو نومونو یادوي، ځکه د دې بې دینانو له اصولو څخه دا دي چې هیڅ اله نشته او ژوند یوازې ماده ده. او د دوی له اصولو څخه له: بیا ژوندون، جنت او دوزخ څخه

منکریدل او په ټولو دینونو کفر کول دي، او څوک چې د دوی په کتابونو کې وګوري او هغه څه چې دوی پرې دي په یقیني توګه به باوري شي، او شک نشته چې دا عقیده د ټولو اسماني دینونو سره په ټکر کې ده، او پیروان یې په دنیا او اخرت کې له تر ټولو ناوړه انجام سره مخ کوي.

او د حق له مخالفو عقیدو څخه د ځینو باطنیانو او ځینو صوفیانو دا عقیده ده، ځنې چې هغوی ورته اولیاء وایي چې د الله سره په تدبیر او د عالم د چارو په سمون کې برخه لري او اقطاب ورته وایي **(هغه څوک چې په یوه چاره کې محوري رول لري)** همدا رنګه اوتاد یې بولي **(هغه څوک چې په کایناتو کې د تصرف**

**واک لري)** او غوث يې هم بولي **(هغه څوک چې د زمکې د خلکو سره مرسته کوي)** او داسې نور نومونه چې دوی د خپلو خدايانو لپاره له ځان نه جوړ کړي دي. دا په ربوبيت کې تر ټولو بد شرک دی، او دا د جاهليت د عربو له شرک څخه هم ناوړه دی، ځکه د عربو کافرانو په ربوبيت کې شرک نه کاوه، بلکه په عبادت کې يې شرک کاوه، او شرک به يې د آسانتيا په حالت کې و، ځکه په سختۍ کې به يې يوازې الله ته عبادت ځانګړی کاوه لکه چې الله تعالی فرمايي: **(نو کله چې دوی په کښتۍ کې سواره شي (، نو) دوی الله بولي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دين خالص کوونکي وي، نوکله چې هغه (الله) دوی وچې**

**ته وژغوري (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شريکان نيسي).** [1]

خو په ربوبيت باندې هغوی يوازې الله ته اعتراف کاوه لکه چې الله پاک فرمايي: **(او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې دوی چا پيدا کړي دي (نو) دوی به خامخا ضرور ووايي: الله (پيدا کړي دي).** [2]

او الله تعالی فرمايي: **(ته ووايه: تاسو ته له آسمان او ځمکې نه روزي څوك دركوي؟ يا د غوږونو او سترگو مالك څوك دی اوڅوك ژوندی له مړي راوباسي او مړی له ژوندي راوباسي او څوك د کارونو تدبير کوي؟ نو**

---

[1] [العنکبوت سورت: 65آيت].

[2] [الزخرف سورت: 87 آيت].

**یقینًا دوی به وایي چې الله دی، (نو ته ووایه: آیا نو تاسو نه ویرېږئ)!** [1]

او پدې معنا سره ډیر آیتونه راغلي دي.

❀❀❀

[1] [یونس سورت: 31 آیت].

## ﴿ هغه څه چې وروستيو مشركانو له لومړيو نه زيات كړي ﴾

**او اوسنيو مشركانو پر پخوانيو باندې په دوو كارونو كې زياتوالى كړى:** لومړى دا چې له دوى څخه د ځينو شرك په ربوبيت كې دى ، او **دويم** دا چې : شرك يې په آسانه او سخته دواړو كې دى، لكه څرنگه چې د دوى په حال هغه څوك ښه پوهيږي چې ورسره گډ شوي او د دوى حالات يې له نږدې څيړلې دي، او هغه څه يې ليدلي چې دوى يې د الحسين او البدوي او نورو له قبرونو سره په مصر او د عيدروس له قبر سره په عدن، او د الهادي له قبر سره په يمن، او د ابن عربى له قبر سره په شام، او د شيخ عبد القادر الجيلانى له

قبر سره په عراق او نورو مشهورو قبرونو سره کوي؛ چې عوام خلک پکې غلو(له حد نه اوړيدل) کوي او د الله تعالی ډیری حقونه يې ورکړي دي، او داسې ډير کم خلک شته چې رد ورباندي وکړي او د توحيد حقيقت ورته بيان کړي؛ هغه چې الله پرې خپل نبي - صلی الله عليه وسلم - او له هغه وړاندې رسولان عليهم الصلاة والسلام راليږلي، بس مونږ يواځې د الله تعالی يو او خاص هغه ته ورگرځېدونکي يو. او د الله پاک نه سوال کوو چې دوی بيرته په هوش راولي او تر منځه يې حق ته بلونکي زيات کړي، او د مسلمانانو حاکمان او علماوو ته يې د شرک پر وړاندې د مبارزې او بالاخرة د (شرک ) او شرکي وسايلو د له منځه وړلو توفيق ورکړي، هغه ذات اوريدونکی او نږدې دی.

او د اسماء او صفاتو په باب کې د صحيح عقيدې ضد عقيده د بدعتيانو؛ جهميه او معتزله و او د دوی د پيروانو عقيده ده، چې له الله - تعالى- څخه صفات نفي کوي او يا يې له معنا څخه انکار کوي، بلکه الله تعالى پداسې صفتونو سره يادوي چې هغه معدوم (نشت)، جامد او يا ناشوني وي، الله تعالى د دوی له ويناوو څخه ډير پورته دی. او پدوی کې هغه خلک هم شامل دي چې له ځني صفتونو منکر دي او ځنې نور ثابتوي لکه: أشعريان، دا چې هغوی ځني صفتونه ثابتوي نو وربانديې لازم دي چې ورته نور صفتونه چې دوی ورڅخه تېښته کوي او نفي کوي يې او دلايل يې تأويلوي (**هم بايد ثابت کړي، خو دا چې نه يې کوي**) ، نو پدې سره دوی د سمعي او عقلي دلايلو سره په

مخالفت کې واقع شول، او پدې سره په ښکاره ټکر کې ولوېدل، خو أهل سنت والجماعت الله پاک ته د پوره کمال سره له نومونو او صفتونو څخه هغه څه ثابتوي چې هغه (ذات) خپل ځان ته ثابت کړي وي او یا یې رسول؛ محمد - صلی الله علیه وسلم - ورته ثابت کړي وي، او پاک یې ګڼي لدې چې د مخلوق سره یې تشبیه کړي پداسې پاکوالي سره چې د تعطیل (له معنا څخه) پکې څکه نه وي، نو پدې سره دوی په ټولو دلیلونو عمل کړی، نه یې تحریف وکړ او نه هم تعطیل، او له هغه ټکر څخه هم بچ پاتې شول چې لدوی پرته نور پکې واقع شوي دي، لکه څرنګه چې پدې اړه وړاندې وویل شول او همدا په دنیا او اخرت کې د خلاصون او نیکمرغۍ لار ده؛ هغه نیغه لار چې د دې امت سلفو

او امامانو نیولې وه. او هیڅکله به د دې امت وروستي خلک اصلاح نه شي مګر په هغه څه چې لومړي پرې اصلاح شوي وو، چې هغه د قرآن اوسنت پیروي ده، او د هر هغه څه پرېښودل چې د دې خلاف وي.

❀❀❀

# ﴿ یوازې د الله د عبادت واجبوالی ، او د الله پر دښمنانو د بریا لاملونه (أسباب) ﴾

پر مکلف تر ټولو اړین واجب او لویه فریضه دا ده چې د خپل رب عبادت وکړي؛ هغه چې د آسمانونو، زمکې، او لوی عرش څښتن دی، هغه چې په خپل کتاب کې فرمايي: (**بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې آسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړل، بیا د عرش له پاسه برقراره شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي، په دې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او (پیدا کړې یې ده) لمرسترگه، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم سره مسخر کړی شوي دي، اګاه شئ! خاص هغه لره دي پیدا کول**

**او حکم کول، ډېر برکت والا دی الله چې رب د ټولو مخلوقاتو دی).** [1]

او په بل ځای کې الله پاک په خپل کتاب کې خبر ورکوي چې (**هغه ثقلین (انسانان او پیریان) د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي (او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي).** [2]

او دا عبادت چې الله تعالی ثقلین (انسانان او پیریان) د همدې لپاره پیدا کړي دي؛ دا د هغه توحید دی د بیلابیلو عبادتونو سره لکه: لمونځ، روژه، زکات، حج، رکوع، سجده، طواف، ذبح (حلاله)، نذر، ویره، امید

---

[1] [الأعراف سورت: 54 آیت].

[2] [الذاریات سورت: 56 آیت].

ساتل، مرسته غوښتل (د سختۍ پر مهال)، مرسته غوښتل (د کارونو په ترسره کولو کې)، پناه غوښتل او د عبادت ټول ډولونه، او پدې کې د هغه د ټولو امرونو منل او له منهیاتو یې ډډه کول دي چې د هغه عزتمند کتاب او د امانتدار رسول - سنت پر هغه دلالت کوي، په هغه دې د رب غوره درود او سلام وي - . او یقینا پدې عبادت سره الله پاک ټولو ثقلینو (انسانانو او پیریانو) ته امر کړی؛ هغوی چې د همدې لپاره پیدا شوي او ټول پیغمبران لیږل شوي، او د دې عبادت د بیان او وضاحت لپاره کتابونه نازل شوي، نو دا عبادت او تفصیل یې او ورته بلنه او الله تعالی ته یې یوازې په خاصوالي باندې امر کول (پدې ټولو سره الله پاک امر کړی دی ) لکه چې الله تعالی فرمایي: **(ای خلقو! د**

**خپل رب عبادت کوئ، هغه چې تاسو يې پيدا کړي يئ او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ).** [1]

او الله تعالى فرمايي: **او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هيچا) مګر يوائې د هغه او له مور او پلار سره ښه احسان کوئ.** [2]

او د قضى معنى پدې آيت کې امر او وصيت دی.

او الله تعالى فرمايلي: **(حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او) حنيفان (له باطله حق ته**

---

[1] [البقرة سورت: 21 آيت].

[2] [الإسراء سورت: 23 آيت].

**راګرځېدونکي) وي، او (د دې چې) دوی دې لمونځ قايموي او زکات دې ورکوي او همدغه ډېر محکم دين دی).** [1]

او پدې معنا سره د الله په کتاب کې آيتونه ډېر دي، او الله تعالی فرمايي: **او پېغمبر چې تاسو ته څه هم درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي، نو تاسو منع شئ او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله ډېر سخت عذاب والا دی)** [2]

او الله پاک فرمايلي: **(ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ او د خپلو د امر د خاوندانو (واکمنانو)، نو که چېرې تاسو**

---

[1] [البينة سورت: 5 آيت].،

[2] [الحشر سورت: 7 آيت].

**په خپلو کې د څه شي په باره کې هم نزاع (جګړه او اختلاف) وکړئ، نو هغه (شی) الله او د هغه رسول ته وګرځوئ که چېرې تاسو په الله او په ورځ د اخرت ایمان لرئ، دا (کار) ډېر غوره دی او د انجام په لحاظ ډېر ښه دی).** [1]

او الله تعالی فرمایلي **(چا چې د رسول اطاعت وکړ نو یقینًا هغه د الله اطاعت وکړ).** [2]

او الله پاک فرمایلي: **(او یقینًا یقینًا مونږ په هر یو امت کې یو رسول لیږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ).** [3]

---

[1] [النساء سورت: 59 آیت].

[2] [النساء سورت: 80 آیت].

[3] [النحل سورت: 36 آیت]،

او الله پاک فرمایلي: **(او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لېږلی مګر چې هغه ته به مونږ (دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، نو تاسو زما عبادت کوئ).** [1]

او الله تعالی فرمایلي: **(الف، لام، را، (دا) کتاب دی چې آیتونه یې محکم کړی شوي دي، بیا د ښه حکمت والا، پوره خبردار ذات له خوا نه په تفصیل سره بیان شوي دي) (دا چې تاسو عبادت مه کوئ مګر یوائې د الله، بېشکه زه ستاسو لپاره د هغه له جانبه (رالېږل شوی) وېروونکی او زېری ورکوونکی یم).** [2]

---

[1] [الأنبياء سورت: 25 آیت]

[2] [هود سورت: 1–2 آیتونه].

نو دا محکم آیتونه او هغه چې په همدې معنا سره د الله له کتاب څخه راغلي دي ټول الله تعالی ته د عبادت د اخلاصوالي په وجوب دلالت کوي، او دا چې همدا د دین اصل او د (ابراهیمي) ملت بنسټ دی، همدا رنګه پدې دلالت کوي چې د پیریانو او انسانانو له پیدا کولو، د پیغمبرانو د رالیږلو او د کتابونو د نازلیدو حکمت هم همدا دی؛ نو دې چارې ته پر ټولو مکلفو پاملرنه واجب ده، چې ځان پرې ښه پوه کړي، او له هغه څه څخه ځان وساتي چې ډیری اسلام ته منسوب شوي خلک پکې لویدلي؛ په پیغمبرانو او صالحینو باندې په باور لرلو کې له حد نه په اوړیدلو، پر قبرونو یې د ودانیو، جوماتونو او کمبدو جوړولو، له هغوی نه سوال کولو، مرسته غوښتلو، هغوی ته پناه

وړلو او د اړتیا د پوره کولو لپاره ترې سوال کول او د سختیو د لرې کولو، د ناروغانو د روغتیا، پر دښمنانو بریا او داسې نور (کارونه چې) د لوی شرک ډولونه دي، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه صحیح ثابت دي او د هغه څه سره سمون خوري چې د الله کتاب پرې دلالت کوي، په صحیحینو کې له معاذ - (رضي الله عنه) - څخه روایت دی چې نبی - صلی الله علیه وسلم - ورته وویل: «**آیا پوهیږې چې د الله حق پر بنده گانو او د بندگانو حق پر الله څه دی؟ نو معاذ وايي: ما وویل: الله او رسول یې ښه پوهیږي، نو نبي - صلی الله علیه وسلم - وویل: د الله حق پر بندگانو دا دی چې عبادت یې وکړي او هیڅ شی ورسره شریک نه کړي، او د بندگانو حق پر الله دا دی**

**چې هغه چاته عذاب ورنکړي چې هيڅ شی يې ورسره شريک کړی نه وي». **[1]الحديث

او په صحيح البخاري کې له ابن مسعود - (رضي الله عنه) - څخه (روايت ) دی چې نبي - صلی الله عليه وسلم - وويل: «**څوک چې پداسې حال کې مړ شو چې له الله سره يې شريک باله نو اور ته داخل شو**» .

**او مسلم پخپل صحيح کې له جابر - رضي الله عنه - څخه روايت کوي چې نبي - صلی الله عليه وسلم - وويل: «څوک چې د الله تعالی سره پداسې حال کې مخ شو چې هيڅ شی يې ورسره شريک کړی نه وي نو جنت ته داخل شو، او څوک چې وسره مخ شو او څه**

[1] البخاري الاستئذان (5912)، مسلم الإيمان (30)، الترمذي الإيمان (2643)، ابن ماجه الزهد (4296)، أحمد (5/238).

**شی يې ورسره شريک کړی و، نو اور ته داخل شو» .**

[1]

او پدې معنا سره احاديث ډير دي، او دا مسأله له اړينو او لويو مسائلو څخه ده، او الله خپل نبی محمد - صلی الله عليه وسلم - توحيد ته په بلنې او له شرک څخه په منع کولو سره راليږلی دی، نو هغه څه يې خلکو ته په پوره توګه ورسول چې الله پرې راليږلی و، او د الله په لار کې سخت وربړول شو، نو پر هغو يې صبر وکړ، او د هغه سره يې ملګرو - (رضي الله عنهم) - هم صبر وکړتر دې چې الله تعالی د عربو له جزيرې څخه ټول بتان او طلسمونه لرې کړل، او خلک ډلې ډلې د الله په دين کې داخل شول، او د کعبې چاپيره او

---

[1] أحمد (1/374)، البخاري تفسير القرآن (4227)، مسلم الإيمان (92).

دننه ټول بتان مات شول، لات، عزى او منات هم ويجاړ شول، او د عربو په قبيلو کې ټول بتان مات شول او هغه باطل معبودان چې هغوی سره وو ټول وران شول او د الله کلمه پورته شوه او د عربو په جزيره کې اسلام ښکاره شو. [1]

بيا مسلمانانو له جزيرې نه د باندې دعوت او جهاد ته مخه کړه، او کومو بندګانو ته چې الله له وړاندې نيکمرغي ليکلې وه د دوی په لاس ورته الله هدايت وکړ، او د دوی پر مټ الله حق او عدالت په ډيری کلو او باندو کې خپور کړ او پدې سره د هدايت امامان او د حق سالاران او عدالت او اصلاح ته بلونکي وګرځيدل، او د دوی لار له تابعينو او په نيکو کې د

---

[1] البخاري العلم (129)، مسلم الإيمان (32)، أحمد (3/157).

هغوی له پیروانو څخه؛ د هدایت امامانو او حق ته بلونکو هم ونیوله؛ د الله دین یې خپراوه، او خلک یې د الله یووالي ته رابلل، او په خپلو مالونو او ځانونو سره یې د الله په لار کې جهاد وکړ؛ پداسې حال کې چې د هیڅ ملامتوونکي له ملامتیا څخه نه ویریدل، نو الله یې ملاتړ وکړ او بریا یې ور په برخه کړه او پر خپلو حریفانو یې برلاسي کړل  او په خپله ژمنه یې چې ورسره پدې قول کې کړې وه وفا وکړه: **(ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی! که چېرې تاسو د الله مرسته وکړئ، هغه به ستاسو مرسته وکړي او ستاسو قدمونه به ثابت (او ټینګ) کړي).** [1]

---

[1] [محمد سورت: 7 آیت].

او د الله تعالی دا قول: **(او الله به خامخا ضرور د هغه چا مرسته وکړي چې د هغه (الله) مدد کوي، بېشکه الله خامخا ډېر زورور، غالب دی) هغه کسان دي چې که مونږ دوی ته په زمکه کې قدرت ورکړو (نو) دوی به لمونځ قایموي او زکات به ادا کوي او د نېکۍ حکم به کوي او له بدۍ نه به منع کوي، او خاص د الله لپاره د کارونو انجام دی).** [1]

بیا له هغې وروسته خلک بدل شول، ډلې ډلې شول، د جهاد په اړه یې ناغېرې وکړه او آرامتیا او شهوت پرستۍ ته یې لومړیتوب ورکړ، ناکاره کړنې پکې راښکاره شوې مگر هغه څوک چې الله پاک وساتل، نو الله یې حالت ته بدلون ورکړ، دښمنان یې پرې برلاسي کړل؛ (دا) د

[1] [الحج سورت: 40–41 آیتونه].

هغو کړنو سزا وه چې دوی کړې وې، او هیڅکله ستا رب د بندګانو سره ظلم کوونکی ندی، الله تعالی فرمایي: **(دا په دې چې یقینًا الله د هغه نعمت بدلوونکی نه دی چې پر کوم قوم یې پېرزو کړی وي تر هغه چې هغوی هغه (حالت) بدل کړي چې د هغوی په نفسونو کې دی).** [1]

نو پر ټولو مسلمانانو واجب دي؛ په حکومتونو او ولسونو چې الله ته رجوع وکړي او عبادت هغه ته ځانګړی کړي او له هغو نیمګړتیاوو او ګناهونو چې تېر شوي دي توبه وکړي او بیړه وکړي د هغه واجب په ادا کولو کې له فرضي عملونو څخه او له هغه څه نه ځان ژغورلو سره چې پرې یې حرام کړي دي ، او دا

---

[1] [الأنفال سورت: 53 آیت].

چې یو بل ته سره پدې نصیحت وکړي او یو بل سره پدې اړه مرسته وکړي.

او لدې اړین او مهم د شرعي حدودو نافذول او په ټولو شیانو کې د خلکو تر منځه د شریعت حاکمول دي، او شریعت ته د پریکړو وړل او د بشري قوانینو چې د الله له قانون سره په ټکر کې وي باطلول دي، او ورته د پریکړو له وړلو نه ځان ژغورل او د شریعت حکمونو ته د ټولو ولسونو اړ ویستل دي( چې غاړه ورته کیږدی)، همدا رنګه پر علماوو لازم دي چې خلک په خپل دین پوه کړي او د دوی تر منځ اسلامي درک خپور کړي او یوبل ته په حق او صبر وصیت سره وکړي، (همدارنګه)په نیکیو امر او له بدیو څخه منع کول او

دې کارونو ته د چارواکو هڅول دي. همدا رنګه د ویجاړوونکو بنسټونو لکه کمونیزم، بعثیت، قومي تعصبونه او داسې نورو مبادئو او د شریعت خلاف مذهبونو په وړاندې مبارزه کول واجب دي، چې پدې سره به الله مسلمانانو ته هغه څه سم کړي چې خراب شوي دي او هغه څه به بیرته ورکړي چې ورڅخه شړیدلې دي او هغه پخوانی عزت به بیرته ورکړي او پر غلیم به یې برلاسي کړي او په ځمکه کې به یې واکداران کړي لکه چې الله تعالی فرمایي او هغه تر ټولو رښتیا ویونکی دی: **(او په مونږه باندې د مومنانو مرسته کول حق دي).** [1]

---

[1] [الروم سورت: 47 آیت].

او الله تعالی فرمايي: (الله وعده کړې د هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی ستاسې نه او نيك عملونه يې کړي دي، چې خامخا هرومرو به دوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي لکه چې هغو کسانو ته يې خلافت ورکړی و چې له دوی نه وړاندې وو او خامخا ضرور به دوی ته د دوی هغه دين ثابت (او قوي) وګرځوي چې هغه (الله) د دوی لپاره غوره کړی دی او خامخا ضرور به دوی ته د دوی له وېرې نه پس امن په بدل کې ورکړي، چې دوی به زما عبادت کوي او زما سره به هېڅ شی نه شريکوي، او هر څوك چې د دغو (انعامونو) نه بعد کافر شو، نو همدغه کسان فاسقان دي). [1]

---

[1] [النور سورت: 55 آيت].

او الله پاک فرمايي: (**بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، په دنيايي ژوند کې مرسته کوو او په هغې ورځ کې (هم) چې گواهان به ودرېږي)**. [1]

**(په هغې ورځې کې چې ظالمانو (مشرکانو) ته به د هغوی معذرت هېڅ نفع نه رسوي او د همدوی لپاره لعنت دی او د همدوی لپاره بد کور (دوزخ) دی)**. [2]

له الله تعالی نه سوال کوم چې د مسلمانانو چارواکي او عوام يې اصلاح کړي او په دين کې پوهه ورپه برخه کړي، او د الله څخه په ويره يې سره راغونډ کړي او ټولو ته دې خپله نيغه لار وښايي، حق ته دې پرې بريا

---

[1] [غافر سورت: 51 آيت].

[2] [غافر سورت: 52 آيت].

ورکړي او باطل دې پرې ذلیل کړي او ټولو ته دې توفیق ورکړي چې په نیکو کارونو او تقوا کې یو له بل سره مرسته وکړي او یو بل ته سره په حق او صبر سره وصیت وکړي ، هغه ذات د همدې کارونو توان ورکوونکی او پرې ځواکمن دی، وصلى الله وسلم على عبده ورسوله وخيرته من خلقه نبينا وإمامنا وسيدنا محمد بن عبد الله وعلى آله وأصحابه ومن اهتدى بهداه- والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

❋❋❋

# فهرست


﴿ سریزه ﴾ ........................................................ 1

﴿ په الله تعالی ایمان ﴾ ............................................ 9

﴿ د اسلام په ټولو پنځو ښکاره رکنونو ایمان راوړل چې پر خپلو بنده ګانو يې واجب او فرض ګرځولي دي ﴾ .................................. 15

﴿ پدې باور لرل چې الله پخپله پيدا کوونکی د عالم، چارې سمبالوونکی يې او په خپل علم او ځواک سره پدوی کې تصرف کوونکی دی ﴾ ... 18

﴿ په پرښتو ایمان ﴾ ................................................ 32

﴿ په کتابونو ایمان ﴾ ................................................ 35

﴿ پر پيغمبرانو ایمان ﴾ .............................................. 39

﴿ د آخرت پر ورځ ایمان ﴾ .......................................... 42

﴿ په تقدير ایمان ﴾ .................................................. 44

﴿ ایمان له قول او عمل څخه عبارت دی، چې په طاعت سره زياتيږي او په ګناه کولو سره کميږي ﴾ ........................................ 49

﴿ د الله لپاره مينه کول او د الله لپاره کرکه کول، او دوستي او دښمني د الله لپاره ﴾ .................................................. 51

﴿ لدې عقيدې څخه د منحرفو او پر ضد يې د تلونکو يادونه ﴾......... 57

﴿ له هغوی څخه د وروستیو شبهه همغه د پخوانیو شبهه ده؛ دا او د ځینو کفري عقیدو یادونه ﴾........................................................ 61
﴿ هغه څه چې وروستیو مشرکانو له لومړیو نه زیات کړي ﴾.............. 69
﴿ یوازې د الله د عبادت واجبوالی، او د الله پر دښمنانو د بریا لاملونه (أسباب) ﴾.................................................................. 74